مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۴۰۰ د غبرگولي ۱۹مه | د ۲۰۲۱ د جون ۹مه | ۷۳۰مه گڼه


## کتاب

۴ مخ




### عثماني خلافت

د عثماني خلافت د سیاسي، فرهنگي او علمي خواوو تاریخ د اسلامي نړۍ لپاره یوه ښه لاسته راوړنه ده او کولای شي...

# د برېښنا پایو پرله پسې تخریبي هڅې؛

## برېښنا شرکت: په دوو میاشتو کې د برېښنا د ۱۹پایو تخریب میلیونونه افغانۍ زیانمن کړي یو



۳

### د برېښنا ستنې څوک او ولې نړوي؟

۲ مخ

### د چین د چینگ های ولایت د غالیو صنعت ته کتنه

۳ مخ

### په افغانستان کې د آنلاین زده کړو نیمگړتیاوې

۲ مخ

## قایم: ډېر ژر به د چین له خوا اووه لکه ډوزه واکسینونه کابل ته را ورسېږي



په چین کې د افغانستان سفیر جاوېد احمد قایم وایي، چې تر سبا به د چین له خوا اووه لکه ډوزه واکسینونه کابل ته را ورسېږي.
هغه ویلي، چې د چین د بیولوژیکي محصولاتو د تولید د انستیتیوت د کرونا دا اووه لکه ډوزه واکسینونه او په همدې شمېر سرنجونه له افغانستان سره مرسته کړي دي.
د قایم په خبره، دا مرسته افغانستان ته د روانې اونۍ د یکشنبې په ورځ بار شوې او په درېو ورځو کې به ورسېږي.
چین داسې مهال له افغانستان سره د کرونا د واکسینونو مرسته کړې، چې یکشنبه د عامې روغتیا وزارت د واکسین د اول او دویم ډوز د تطبیق پروسه بنده کړه. وزارت ژمنه کړې چې ژر به دا پروسه بېرته پیل کړي.
د یادونې ده چې افغانستان په دې وروستیو کې د کرونا له درېیمې څپې سره مخ دی او د دغه ویروس تر ټولو ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت کېږي.

## د بشري حقونو خپلواک کمېسیون: د هېواد په ډېریو سیمو کې تاوتریخوالی او خپلسری خپل اوج ته رسېدلې دي

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د هېواد په ډېریو سیمو کې تاوتریخوالی خپل اوج ته رسېدلی دی.
د یاد کمېسیون په خبره، د پکتیا زرمت بازار ته لارې بندې او خلک د کورونو پرېښودو ته اړ شوي، په فاریاب کې هم وضعیت ترینگلی دی، په غور کې مخابراتي مزي پرې شوي، په ځینو نورو سیمو کې هم وضعیت جنگي دی او خلک له ستونزو او د قرباني کېدو له جدي گواښ سره مخ دي. دغه کمېسیون ویلي، چې د تاوتریخوالي د زیاتېدو دغې څپې خورا اندېښمن کړي او له ښکېلو غاړو په کلکه غواړي چې د خلکو سر او مال ساتنې ته پاملرنه وکړي.
یاد کمېسیون دغه راز زیاته کړې چې ښکېل اړخونه دې د عامه تاسیساتو، د خلکو د کورونو د زیانمنېدو او ویجاړېدو لامل نه گرځي او نړیوال بشرپال حقونه دې په کلکه رعایت کړي.
یاد کمېسیون همداراز ویلي چې افغان حکومت دې د خپلسرو وسله والو او غیر مسوولو قوماندانانو د جنایتونو مخه ونیسي. د سرچینې په خبره، څو ورځې وړاندې د تخار په شینواري او چنزایي کلیو کې یوه خپلسري وسله وال قوماندان ۳۰ ځایي اوسېدونکي له ځان سره بیولي او بندیان کړي چې له دې ډلې څلور کسان یې وژلي دي. د بشري حقونو خپلواک کمیسیون وایي افغان حکومت مکلف دی چې د دغه ډول جنایتونو مخه ونیسي او عاملین یې د قانون منگولو ته وسپاري.

## امریکا: له پاکستان سره مو د اډو په اړه گټورې خبرې کړې، تر هوکړې وروسته به یې جزیات خپاره شي





۲ مخ

## عبدالله: برای وادارکردن طالبان به مذاکرات جدی به همکاری منطقه و جامعه جهانی نیاز است



عبدالله عبدالله، رئیس شورای عالی مصالحه ملی، می گوید که تلاش‌های صلح به مرحله حساس و سرنوشت‌ساز رسیده است و برای دست‌یابی به صلح پایدار و با عزت، به همکاری دوام‌دار کشورهای منطقه و جامعه بین‌المللی نیاز است تا طالبان به مذاکرات جدی وادار شوند.
رئیس شورای عالی مصالحه ملی این سخنان را در پنجمین نشست مجازی تقویت اجماع منطقه‌ای و بین‌المللی مطرح کرده است. این نشست دیروز با حضور محمدحنیف اتمر وزیر امور خارجه، سیدسعادت منصور نادری وزیر دولت در امور صلح، محمد معصوم ستانکزی، رئیس هیأت مذاکره‌کننده دولت، سفیران و نماینده‌گان کشورها و سازمان‌های بین‌المللی مقیم کابل برگزار شد.
عبدالله در صحبت‌های خود در این نشست از افزایش خشونت‌ها و تشدید جنگ در جریان مذاکرات ابراز نگرانی کرده و خواهان پایان خشونت در افغنستان و برقراری آتش‌بس دایمی شده است.
رئیس شورای عالی مصالحه ملی گفته است: «ما معتقدیم که جنگ افغانستان راه حل نظامی ندارد. تعهد جمهوری اسلامی افغانستان برای صلح پابرجا است. اگر شرایط به گونه دیگر پیش آید و از فرصت پیش‌آمده برای گفت‌وگو و پایان جنگ استفاده‌ی درست نشود، برای دفاع از کشور آماده‌گی کامل داریم.»
در این نشست محمدحنیف اتمر وزیر امورخارجه، سید سعادت منصور نادری وزیر دولت در امور صلح، محمدمعصوم ستانکزی رییس هیأت مذاکره کننده، سفیران و نماینده‌گان سازمان‌های بین‌المللی مقیم کابل نیز سخنرانی و بر ضرورت تأمین صلح در کشور تأکید کرده‌اند.


## تعمیر فروشی



یک تعمیر تجارتی به مساحت {316.25 متر مربع} واقع مارکیت میوه {ناحیه 4، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.
+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802

سرلیکنه

## د برېښنا ستنې څوک او ولې نړوي؟

برېښنا شرکت وايي چې په تېرو دوو میاشتو کې د برېښنا ۱۹ ستنې الوځول شوي، چې له امله یې نه یوازې خلک له ستونزو سره مخ شوي، بلکې برېښنا شرکت ته هم میلیونونه افغانۍ زیان اوښتی دی. وړمه ورځ هم د پروان په سالنگ کې دوې ستنې په بمونو الوځول شوي چې له امله یې پر کابل او ځینو نورو ولایتونو برېښنا پرې شوې ده.

د برېښنا ستنې څوک او د څه لپاره نړوي او ولې یې حکومت په مخنیوي کې پاتې راغلی دی؟

تر اوسه پورې د برېښنا ستنو د نړولو مسوولیت هېچا نه دی اخیستی. برېښنا شرکت دا کار د روښنايۍ او د افغانستان د خلکو د دښمنانو کار گڼي، خو دا چې دا دښمنان څوک دي او له دې کاره یې موخه څه ده، معلومه نه ده. امنیتي اداري هم په دې تړاو غلي دي او یوازې کله کله دومره وايي چې دوی هڅې روانې کړې او ژر به د دې پېښو عاملین ونیسي. دوې میاشتې دا لوبه روانه ده، خو نه د دې پېښو عاملین ونیول شول او نه هم د دې پېښو مخنیوی وشو، بلکې پېښې ورځ تر بلې زیاتې شوې او خلک له سختو ستونزو سره مخ شوي دي. له دې امله چې د گرمۍ موسم دی او خلک برېښنا ته ډېره اړتیا لري، نو ځکه د دې جنایت له امله عام خلک ډېر ځورېږي.

د دې پېښو عاملین لا هم معلوم نه دي، خو ښکاري چې د وسلهوالو مخالفینو کار نه دی، بلکې بل څوک یې تر شا دي. ډېری دا پېښې په پروان او کابل کې شوي او په هغو سیمو کې دي چې هلته د حکومت واکمني ده. د پېښو ځایونو، ډول او نورو اړخونو ته په کتو سره داسې نه ښکاري چې په دې کار کې دې وسلهوال مخالفین لاس ولري او نه هم دولت او برېښنا شرکت وسلهوال مخالفین په ښکاره د دې کار عاملین گڼي. وسلهوال غله او باجاخیستونکي لومړني هغه کسان دي چې په دغو جنایتونو کې دخیل گڼل کېږي. ویل کېږي چې دوی له برېښنا شرکت باج غواړي او برېښنا شرکت یې نه ورکوي، نو ځکه دا چاودنې کوي. دا چاودنې زیاتې او په لویه جغرافیه کې دي، نو که غله او باج اخیستونکې هم وي، لوی غله دي او ښايي دولتي او سیاسي ملاتړ هم ولري. دویمه خبره دا ده چې په دغو سیمو کې یوه فعاله سیاسي- نظامي کړۍ پر حکومت د فشار او سیاسي باج اخیستو لپاره دا کار کوي. دوی غواړي چې په دې ډول په حکومت او په ځانگړي ډول د سولې په پروسه کې مهم رول ولري. درېیمه خبره دا هم کېږي چې ځینې کسان غواړي په دې ډول بریدونو سره له حکومت څخه د ملېشه جوړولو جواز تر لاسه کړي او د برېښنا د ستنو د امنیت په پلمه ملېشې جوړې کړي او لگښت یې هم له حکومت څخه واخلي. ښايي نور احتمالات هم وي، خو دا درې پکې زیات یادېږي.

د برېښنا پر ستنو بریدونه که هر څوک کوي، جنایت او د له خلکو سره دښمني دي. دا که غله وي، که مالي یا سیاسي باجاخیستونکي او یا هم بل هر څوک، حکومت یې باید پر وړاندې چټک او پرېکنده گامونه واخلي. تر اوسه پورې د حکومت کارونه ساړه، ناکاره او بې گټې وو چې خلک یې ناهیلي کړي دي. حکومت ته پکار ده چې نور په دې برخه کې سوړ چلند ونه کړي، چټ گامونه واخلي، ددې جنایت عاملین پیدا کړي، سزا ورکړي او د نورو دا ډول پېښو د تکرار مخه ونیسي.

# په افغانستان کې د آنلاین زده کړو نیمگړتیاوې

لیکنه: محمدشفیق شرفزی

د کرونا وبا په دې بحراني حالت کې چې نن سبا یې درېیم پړاو ښه زور اخیستی او د ژوند هره برخه یې متضرره کړې، یوه له دغو برخو څخه ښوونه او روزنه هم ده.

ځینو خصوصي ښوونځیو او پوهنتونونو له بده مرغه له دې موقع څخه ناوړه استفاده کړې، چې د حضوري زده کړو په نسبت پکې ډېره گټه تر لاسه کوي.

ښوونکي هم په ارامه زړه په خپله خوښه پرزنټېشن برابروي او په آنلاین ډول یې وړاندې کوي. هلته د ټولنیزو او تربیوي کړنو لپاره چې په عین وخت کې د تدریس پر مهال د ښوونکو لخوا تر سره کېدل، په نظر کې نه وي نیول شوي.

کله چې په غیر حضوري ډول تدریس کېږي، نو په دې وخت کې ښوونکي هسې سرسري په ټاکلي موضوع بحث کوي او د ژوند نور تربیوي اړخونو ته هېڅ توجه نه کېږي. په حضوري زده کړو کې د زده کوونکو ذهني او رواني حالاتو ته په کتو ښوونکي پرمخ ځي؛ خو آنلاین زده کړې بیا د دې برعکس وي.

په فعلي شرایطو کې خصوصي سکټور یو خطرناک وضعیت غوره کړی، د ځینو ښوونځیو مالکان د زده کوونکو د ښوونې او روزنې پر ځای خپله ټوله توجو خپل مفاد ته اړولې. دوی وایي که مو د آنلاین زده کړو پروگرامونه نه وای پیل کړي، نو ښايي د زده کوونکو راتلونکی به ستونزمن وای. زما په فکر که چېرې دا حالت همداسې دوام وکړي، ښايي د زده کوونکو راتلونکی به له خاورو سره خاورې شي.

د آنلاین زده کړو لپاره اساسي رکن پلان جوړول دي. منظم پلان ترتیبول په دې فکر کول چې د غیر حضوري مؤثریت څنگه په حضوري زده کړو مؤثره کړو. له ډېرو خصوصي ادارو سره د دې لپاره کومه قناعت کوونکې طرحه او لایحه نه وي او د آف لاین په څېر د آنلاین زده کړو پروسه پرمخ وړي، چې دا کار د زده کوونکو راتلونکي ته سخته ضربه ده. همداشان له ځینو ښوونکو سره که د آنلاین تدریس تجربه نه وي، نو ویلای شو چې آنلاین زده کړې هېڅکله د آفلاین ځای نه شي نیولی.

په ښوونځي کې زده کوونکي د ښوونکي له ظاهري کرکټر او کړو وړو څخه نېغ په نېغه متاثره کېږي او په تربیت کې یې مثبت بدلون راولي. همداشان د ښوونکي لارښوونې په درست شکل تعقیبوي، خو په آنلاین زده کړو کې دا کار ناشونی دی.

بله مسئله د دوی ازموینه ده، د قرنطین په دې موده کې داسې ښوونکي شته چې حتا خپلو زده کوونو سره یې ویډیوکال باندې خبرې هم نه دي کړې؛ نو چې کله له دوی څخه ازموینه اخلي دا بیا بله لویه ستونزه ده بلخصوص د لومړې دورې زده کوونکو ته دا کار ناشونی دی. دلته دوی د خپلو افکارو اظهارولو او ښوونکي ته د سوال ځوابولو پر وخت وېره احساسوي.

په دې سره ښوونکی شاید فکر وکړي چې زده کوونکی یې ذهني کمزوری دی او کورنۍ یې په روزنه کې فعاله ونډه نه ده اخستې، خو حقیقت یې بیا داسې نه وي. دلته پړه ښوونکي او ښوونځي بولم، ځکه دوی له دې مېتودونو څخه چې څرنگه آنلاین تدریس وشي، قاصر دي.

په آنلاین زده کړو کې د زده کوونکو پالنه ټوله پر والدینو ده، د ښوونځیو او ښوونکو رول پکې نه وي، زده کوونکو ته چې کومه کورنۍ دنده ورکول کېږي، ډېری برخه یې والدینو پورې مربوطېږي، ځکه کومه دنده چې په ښوونځیو ورکول کېده، دوی اوس له هغې بې برخې دي.

که ووایم چې آنلاین زده کړې له زده کوونکو څخه زیات والدین ازمايي، مبالغه به نه وي. که چېرې د یوه زده کوونکي والدین نالوستي وي، نو د آنلاین زده کوونکو لپاره بیا دا لویه ستونزه وي. د کومو زده کوونکو والدین چې له ځینو نورو ستونزو سره مخ وي، دوی ته چې کوم نصاب ورکړل شوی وي، دوی یې درست نه شي لوستی او د ښوونځي دنده چې زده کوونکي یې باید کور کې تر سره کړي، نه یې شي تر سره کولی، چې تاثیر یې پر زده کوونکو پرېوځي. دلته د ښوونې او روزنې ټول کار پر والدینو وي او د ښوونځي ښوونکي هسې په آنلاین بڼه درس ورکوي او خپل مسوولیت رفع کوي. والدین د خپل اولاد د ښوونې او روزنې نتیجه د دوی په سند کې گوري او همدې ته سترگې په لار وي، نو دوی بې شرقه پیسې مصرفوي څو خپلو موخو ته ورسېږي.

د افغانستان په څېر هېواد کې چې په ځینو سیمو کې انټرنېټ سم کار نه کوي او که کوي یې هم ډېر ضعیفه وي، ځینې خلک بیا په عین وخت کې انټرنېټ ته لاسرسی نه لري، نو درسونه ترې تېرېږي، کله چې نېټ پیدا کړي نو بیا پرې درسونه بوج شوي وي.

د آنلاین زده کړو یو بل نقصان دا هم دی، چې د زده کوونکو اخلاقي سطحه په مسلسل ډول د رکود پر لوري ځي. ځینې مسایل دي چې زده کوونکي یې د مور او پلار په پرتله زده کړېیز چاپېریال کې تر لاسه کوي. ځینې اخلاقي صفات داسې وي، چې پرته له ښوونکي یې نه شي زده کولی. زده کوونکي له څپلو همزولو سره له ځینو اخلاقي صفاتو څخه برخمن کېږي.

آنلاین زده کړو زده کوونکي گوښې کړي او له ټولنیز اخلاقي چاپېریال څخه یې محروم کړي. داسې کړنې چې د والدینو او ښوونکي پرته ورته زده کوونکي ضرورت لري، چې باید عملاً یې زده کړي، هغه ټولنه ده.

آنلاین زده کړې به سند خامخا درکړي، مگر باسواده کولی مو نه شي. که د هغو زده کوونکو په اړه خبره وکړو چې په منځنۍ یا لېسې دوره کې زده کړې کوي، هغوی د وړو کوچنیانو په پرتله زیات پرېشانه دي. دغه زده کړېیزه طریقه هغوی ته د منلو وړ نه ده، هغوی تل غواړي چې د ازموینې په ورځ عملاً ازموینه ورکړي، دوی ته دغه ازادي نه ورکول کېږي.

نو کله چې لوی زده کوونکي دا ډول زده کړې نه خوښوي، نو کوچنیان به یې په څه خوښ کړي. ځینې ښوونځي بلخصوص دولتي ښوونځي هم له دې کاره ناخوښې دي. د نامنظمې لایحې، موادو، نصاب، تجربې، مسلکي ښوونکو او وسایلو کمبود یا نه موجودیت هغه څه دي، چې دا پروسه یې ننگولې.

# امریکا: له پاکستان سره مو د اډو په اړه گټورې خبرې کړې، تر هوکړې وروسته به یې جزیات خپاره شي




د امریکا د ملي امنیت سلاکار جک سلیوان ویلي، چې متحده ایالتونو له پاکستان سره په یاد هېواد کې د پوځي اډو جوړولو په اړه گټورې خبرې اترې کړې دي.

نوموړي زیاته کړې چې امریکا له پاکستان سره په پوځي، استخباراتي او ډیپلوماتیکي کچه خبرې کړې، څو ډاډ تر لاسه شي چې افغانستان بیا د ترهگرو پر خوندي پټنځای نه بدلېږي. سلیوان په دې اړه ډېر جزیات نه دي ورکړي، خو ټینگار یې کړی چې دا مسئله به تر هغو پورې پټه پرېږدي، ترڅو پورې چې دوی یوې هوکړې ته سره نه وي رسېدلي.

سلیوان دا څرگندونې داسې مهال کوي چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي هم ویلي چې په سیمه کې د پوځي اډو لټون د امریکا یوه غوښتنه ده، خو دوی خپلو گټو ته گوري.

نوموړي له جیو نیوز سره په مرکه کې زیاته کړې، ده وړاندې تر دې هم ویلي چې پاکستان له امریکا سره د پوځي اډو کوم نوی تړون نه دی کړی او نه هم دوی داسې اراده لري. نوموړي دغه راز څرگنده کړې چې پاکستان په افغانستان کې امن ته لېوال دی او غواړي چې له دغه هېواد څخه د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره سم د سولې پروسه هم پرمختگ ولري. قریشي وايي، اوس ټوله نړۍ دې نتیجې ته رسېدلې چې پاکستان د افغان کشالې اصلي عامل نه، بلکې د دغې کشالې د حل یوه مهمه برخه ده.

په پاکستان کې د امریکایي اډو بحث داسې مهال گرم شوی، چې په دې وروستیو کې طالبانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره له گاونډیو هېوادونو وغوښتل چې په سیمه کې دې امریکایي اډو ته اجازه نه ورکوي، خو پاکستان د طالبانو د دې اعلامیې په تړاو څه نه دي ویلي.

# د چین د چینگ های ولایت د غالیو صنعت ته کتنه

لیکواله: **یاسمین** د چین نړیوالې راډیو خبریاله



د چین د دولت رییس شي جین پینگ د جون په اوومه د دغه هېواد چینگ های ولایت مرکز شي نینگ ښار ته ولاړ او هلته یې د غالیو له تصدۍ څخه لیدنه وکړه. نوموړي له دغې تصدۍ څخه د لیدنې په ترڅ کې وویل، چې د غالۍ جوړونې صنعت په چینگ های کې ډېر مروج دی او د بېوزلۍ د له منځه وړلو، د کلیو د سمسورتیا او د ملي یووالي د ټینگښت لپاره گټور ثابت شوی دی. هغه هیله وښوده، چې چینگ های دغسې ځانگړو صنعتونو ته لا ډېر پرمختگ ورکړي، څو د نوښت پر مټ د لا ښه راتلونکي څښتن شي.

چینگ های ولایت کې د زانگ قوم ځانگړې غالۍ جوړېږي او همدغه سیمه د دغو غالیو سرچینه بلل کېږي. د معلوماتو له مخې، د دغه ولایت اداري له ۲۰۰۱ کال راهیسې د غالۍ جوړونې صنعت ته پاملرنه ډېره کړې او د دې صنعت د پرمختگ لپاره یې چټک گامونه پورته کړي دي. د غالیو صنعت په ۲۰۰۳ کال کې د نوموړي ولایت د قومي ځانگړتیا د مهم صنعت په توگه د پرمختگ د یوولسم پنځه کلن پلان په طرحه کې شامل شوی او د دغه صنعت د پرمختگ لپاره یې اغېزمنې تگلارې پلې کړې دي. د زانگ قوم د غالیو لومړی نندارتون په ۲۰۰۴ کال کې په چینگ های ولایت کې تر سره شو.

د رییس شي جین پینگ له یادې لیدنې څخه یوه ورځ مخکې، یانې د جون په شپږمه د چینگ های ولایت په شي نینگ ښار کې د چین د لومړۍ دورې نړیوال ایکولوژیک نندارتون پرانیستل شو. د دې تر څنگ د زانگ قوم د غالیو اتلسم نندارتون هم د نوموړي نندارتون د یوه فرعي فعالیت په توگه پرانیستل شوی دی، چې موخه یې د چینگ های د عنعنوي قومي کلتور خپرول او د چین او بهرنیو هېوادونو تر منځ د کلتوري تگ راتگ او سوداگریزو همکاریو پیاوړتیا ده.

د زانگ قوم د غالیو په لومړي نندارتون کې یوازې دریو بهرنیو هېوادونو (هند، نیپال او پاکستان) گډون کړی و. د ۲۰۱۲ کال د زانگ قوم غالیو نندارتون کې د افغانستان، هند، پاکستان، ایران، نیپال او ترکیې په گډون د غالیو د عمده تولیدوونکو هېوادونو سوداگرو گډون کړی و او د لاسلیک شویو تجارتي تړونونو ارزښت یې ۸۳ میلیونو ډالرو ته رسیده. د ۲۰۱۵ کال په نندارتون کې بیا د ۳۴ هېوادونو او سیمو څه باندې ۲۵۰ تصدیو گډون کړی و. له دې ښکاري، چې د زانگ قوم د غالیو نندارتون چټک پرمختگ کړی دی.

د چین د زانگ قوم غالیو ټولنې مرستیالې چن یا لي وویل، د کرونا وبا د وقایې او کنټرول له امله د زانگ قوم غالیو د سږني نندارتون پیمانه د تېرو دورو په پرتله کوچنۍ وه، خو د گډونوالو سوداگرو شوق او زوق کم نه و. د نندارتون برخوالو تصدیو شمېر له ۱۱۰ زیات و او د ټولو غالیو وزن ۲۰۰ ټنو ته رسیده.

غالۍ د زانگ قوم د کلتور نمونه بلل کېږي او د چینگ های ـ شي زانگ په لوړه کې د زانگ قوم د خلکو د کلتوري ځانگړتیا ښکارندويي کوي.

ولې چینگ های د زانگ قوم غالیو د مرکز په توگه بلل کېږي؟

لومړی لامل یې دا دی، چې چینگ های ولایت د زانگ قوم عمده استوگنیزه سیمه ده او د زانگ قوم غالۍ د دې سیمې عنعنوي لاسي اثار دي. د چین د زانگ قوم غالیو ټولنې په نوموړي ولایت کې د غالیو صنعت د پرمختگ او د بهرني تگ راتگ په چارو کې مثبت رول لوبولی دی. دغې ټولنې له تېرو څو کلونو راهیسې په چینگ های کې د غالیو د صنعت د پرمختگ له لارې د بېوزلۍ د له منځه وړلو پروژې تر سره کړې دي. د چین د زانگ قوم غالیو ټولنې د دغه قوم دوو کورواکو ولسوالیو «گوه لو او یو شو» ته د غالۍ جوړونې عصري ماشینونه ورکړي او پیاوړي مهارتونه یې ور زده کړي دي. د غالیو صنعت په مروجېدو سره، د ځایي بزگرانو او کوچیانو عایدات زیات شوي او د دې صنعت د پرمختگ لپاره ډېر زیات فرصتونه پیدا شوي دي.

دویم لامل یې دا دی، چې د چینگ های ولایت مرکز شي نینگ ښار د ورېښمو پخوانۍ لارې مهم تمځای و او اوس د چین د غالیو د اومو موادو سرچینې، جوړونې او معاملو لومړی لوی مرکز بلل کېږي.

د چیني غالیو د جوړونې هنر او مهارت پخوا د ورېښمو لارې په اوږدو کې د منځنۍ آسیا له لارې منځني ختیځ او اروپا ته رسول شوی او په دې بهیر کې د بهرني پیوستون او تگ راتگ له لارې لا غوړېدلی دی.

د زانگ قوم د غالیو اتلسم نندارتون د غالیو د ډیزاین د تبادلې، د هنر او مهارت د تگ راتگ او د معاملو د زیاتوالي ډگر گرځېدلی دی.

افغان غالۍ هم په نړۍ کې ډېر شهرت لري او د غالیو جوړونه د افغانستان ځانگړی صنعت دی. باور لرم چې د یو کمربند او یوې لارې د گډې ابادۍ له ژورتیا او د نوموړي نندارتون د اغېزو له پراختیا سره به د غالیو د صنعت په برخه کې د چین او افغانستان تر منځ تگ راتگ او همکارۍ لا پیاوړې شي.

# د برېښنا پایو پر له پسې تخریبي هڅې؛

## برېښنا شرکت: په دوو میاشتو کې د برېښنا د ۱۹ پایو تخریب میلیونونه افغانۍ زیانمن کړي یو



د افغانستان برېښنا شرکت وایي چې په تېرو دوو میاشتو کې په کابل او نړدې ولایتونو کې د وارداتي برېښنا ۱۹ پایې په بمونو الوځول شوي دي. د یاد شرکت ویاند سنگر نیازی وایي چې وړمه شپه هم د جنوبي سالنگ په آهنگران سیمه کې د نامعلومو کسانو له خوا د وارداتي برېښنا دوې پایې الوځول شوي چې په دې سره یاد شرکت ته په میلیونونو افغانۍ زیان رسېدلی دی.

نوموړی زیاتوي: «د برېښنا شرکت تخنیکي ټیم سیمې ته رسېدلی، له ارزونې وروسته به په تخریب شویو پایو کار پیل شي، سیمه غرنۍ ده، د پایو جوړول به وخت غواړي، خو زموږ همکاران به هڅه کوي، دا د روان کال په تېرو دوو میاشتو کې ۱۹ مه د برېښنا پایه ده چې تخریبېږي چې له امله یې برېښنا شرکت ته میلیونونه افغانۍ مالي زیان اوړي».

په ورته مهال د ملي شورا غړي بیا د برېښنا د پایو الوځول د ځینو مافیایي کړیو کار بولي او ټینگار کوي چې یادې کړۍ د حکومت تر کنټرول لاندې سیمو کې په دغه ډول کړنو سره له دولت او خلکو د باج اخیستنې هڅه کوي.

د مشرانو جرگې غړی میرحاتم تره‌خېل وایي: «دا هغه خلک دي، چې له برېښنا شرکت او حکومت څخه د باج غوښتنه کوي، دوی پیسې اخلي او ورانکاري دي او خپل ژوند پر دغو ورانکاریو تېروي».

عام افغانان هم دې چارې اندېښمن کړي او وایي چې د برېښنا اوږدې پرچاوۍ له گڼو ستونزو سره مخ کړي دي. دوی له حکومت غوښتنه کوي چې د عامه تاسیساتو د ساتنې په موخه دې کوټلي گامونه اوچت کړي او د برېښنا د پایو تخریبي عناصر دې د قانون منگولو ته وسپاري.

د کابل ښار اوسېدونکی پیغام زیاتوي: «په داسې حال کې چې هوا ډېره گرمه شوې، د برېښنا نه شتون له ډېرو ستونزو سره مخ کړي یو، گرمي ده، د دفترونو کارونه او نورې چارې مو هم ډېر اغېزمنې شوي، هغه کسان چې دا ډول کارونه کوي، تر غوښتنه کوم چې افغانان دې نور نه ځوروي، په دغه کار کې څه گټه درته رسېږي؟»

خو کورنیو چارو وزارت بیا وایي چې د دوی د عامه شتمنیو د خوندیتوب په موخه خپلې هڅې گړندۍ کړې او خبرداری ورکوي چې د برېښنا پایو له تخریبي عناصرو سره به د قانون له مخې، جدي چلند وکړي. د دغه وزارت مرستیال ویاند حامد روشن زیاتوي: «موږ په دې لټه کې یو چې د دې پېښې عاملین ونیسو، د برق د پایو په نښه کول او تخریبول یو تروریستي عمل دی او د دغه جنایت له ترسره کوونکو سره به جدي قانوني چلن ترسره شي.»

له دې سره جوخت د ولسمشرۍ ماڼۍ د لومړي مرستیال دفتر وایي چې د برېښنا پایو د امنیت د ټینگښت طرحه د بشپړېدو په حال کې ده او ډېر ژر به عملي شي. د یاد دفتر د مطبوعاتو او عامه اړیکو رییس رضوان مراد که څه هم د دغې طرحې جزیات نه شریکوي، خو وایي چې د خلکو له مرستې پرته د برېښنا د پایو د امنیت ټینگښت ستونزمن کار دی. مراد زیاتوي چې کشفي او استخباراتي بنسټونو د سیمې له خلکو سره کار پیل کړی، چې د برېښنا پایو د تخریبوونکو په نیولو کې مرسته وکړي.

افغانستان له تېرو شلو کلونو راهیسې د خپلې اړتیا وړ برېښنا له گاونډیو هېوادونو څخه واردوي، خو د دې برېښنا پایې او نور تاسیسات وخت ناوخته د نامعلومو کړیو له خوا له منځه وړل کېږي.

# د کرونا ډېرېدونکې گواښ؛

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس د مړو شمېر درې میلیونه او ۷۵۶زره او ۲۲۰ کسانو ته ورسېد

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر۱۷۴ میلیونه او ۵۴۱زره او ٦۳۱ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۷۵٦زره او ۲۲۰ کسان مړه شوي او نږدې ۱۵۸ میلیونه نور ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۴میلیونه او ۲۲۸زره او ۳۸۲ ته رسېدلي او ٦۱۲ زره او ۷۵۹ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۲۹میلیونه او ۷۷ زره او ۹٦٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱٦ میلیونه او ۹۸۵زره او ۸۱۲ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۷۱۳ زره او ۹۱۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د پنځه میلیونه او ۲۹۳ زره او ٦۲۷ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

روسیه، برېټانیا، ایټالیا، ارجنټاین او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

هند بیا په نړۍ کې له امریکا وروسته او په اسیا کې تر ټولو مخکښ هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس تر ټولو زیاتې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي. په دغه هېواد کې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د کرونا ۸۱زره او ۱۷ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۱۹ سوه او دوه کسان ترې مړه شوي دي. دغو شمېرو ته په کتو داسې ښکاري چې په دغه هېواد کې د کرونا اوسنۍ څپه مخ په ټیټېدو ده. په دې وروستیو کې په هند کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې او د مړو شمېر په بې مخینې ډول لوړ شو، چې ان دغه هېواد یې له یاد ویروس سره د مبارزې په برخه کې بهرنیو مرستو ته اړ کړ.


## د کتاب خبرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW,ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سپنها
◎ ژباړن: د اکسوس د ژباړې بورډ

### اوومه برخه

### راتلونکې ته نظر




دولت: خو د دغو کارونو په ځای موږ له دې کبله له بن بنست سره مخامخ شوي یوو، چې پاکستان له سترې کمېشنرۍ څخه زموږ ٦ افسران را وشړل او هند هم له خپلې خاورې پنځه یا شپږ پاکستانیان واېستل. روسانو او امریکایانو هم د سړې جگړې پر مهال د یو بل پر خلاف همداسې اقدامات کول، خو هغوی له دې سره، سره هم هېڅکله مذاکرات ونه ځنډول.

وضعیت چې هر څومره ترینگلی وي، له نه خبرو څخه خبرې منطقي دي.

په حقیقت کې چې څومره وضعیت او حالات بحراني کېږي، هماغومره د خبرو اړتیا ډېره وي.

څنگه چې جنرال صېب مخکې وویل، کولی مو شول، چې د یوري له پېښې وروسته مو د عملیاتي برید «سرجیکل سټرایک» په اړه خبرې کړې وای.(جمو او کشمیر کې یوه سیمه ده، چې د هندي ځواکونو پوځي اډه په کې ده. د ۲۰۱٦ کال سپټمبر کې اورپکو پرې ډله ییز برید وکړ او د هند پوځ یې په غبرگون کې د پاکستان تر ولکې لاندې کشمیر کې د اورپکو پر اهدافو د «سرجیکل سټرایک» په نوم شپني عملیات ترسره کړل. ژباړن) د اړیکو او پوهاوي د نشتوالي له امله موضوع رسنیو کې ډنډوره شوه، چې گنې موږ اوس د مظفر آباد د الوځولو وس او وړتیا لرو او نور او نور.

دوراني: موافق یم، له دواړو خواوو هغو کسانو چې دغه عملیاتي برید یې تنظیم کړی و، کولی شول د اعلامیو خپرولو له لارې ترینگلتیا راکمه کړي. د فالکلنډ جگړه یې ښه بېلگه کېدای شي.

بریتانیا شاوخوا ۱۸ زره کیلومتره هاخوا لاړه او له ارجنټاین څخه یې ټاپوگان بېرته ونیول. دا هر څه وشول، خو بریتانیا سمدستي پسې وویل، چې هر څه پای ته رسېدلي، د نور څه پلان نه لري، جبران او خساره نه ده مطرح او دا باب تړل شوی دی. دوی نه غوښتل، چې دا مسئله نوره وشاربي او لس کاله وروسته بیا سره ونښلي. دا د حل غوره لار ده، خو موږ دا کار نه کوو.

د یادېو قضیه هم د خواشینۍ وړ ده، دومره چیغې او نارې مو ووهلې، لکه د کرکټ بریا مو چې ترلاسه کړې وي. موږ ځانونه نشو کنټرولولی. زه په دا ډول قضیو کې د خپلو رسنیو صفت نشم کولی، حد اقل ستاسې یو څه ښه منظمې دي.

دولت: زموږ رسنۍ تر تاسو بدترې دي.

سپنها: کېدای شي، دا مو د گډې DNA لامل وي، چې دومره احساساتي یو.

دولت: کله مو چې پنجاب او وروسته کشمیر کې ستونزې درلودې، د سازمانونو ترمنځ مو همکاري موجوده وه. د پنجاب په تړاو نسبتاً ډېره وه. که دواړه خواوې وغواړي او ښه ورته ښکاره شي، دا کار شونی دی، چې یو بل ته اطلاعات ورکړي.

د ممبیي بریدونو پر مهال امریکایانو موږ ته استخباراتي معلومات راکړل، خو هېڅ گټه یې ونه کړه. دا معلومات یې څه وخت برابر کړل؟ څه معلومات یې ورکړي وو؟ ولې هېڅ عمل پرې ونشو؟

په دغو عملیاتو کې ښکیل کس ډېویډ هیډلي د ISI او امریکایانو دواړو لپاره کار کاوه. هغه په متحدو ایالتونو کې زندان ته تر استول کېدو وروسته پر دې اعتراف وکړ. خو دا موضوع موږ ته په راکړل شویو یا موږ سره په شریکو شویو معلوماتو کې شامله نه وه. جنرال صېب دا راته ووایه، کله چې د ممبیي له برید وروسته اعلان وشو، چې د ISI عمومي رئیس به هند ته لاړ شي، هغه ولې رانغی؟

دوراني: زه یې له جزیاتو خبر نه یم، خو دا د زرداري ډېره ساده لوحه او ضعیفه بیانیه وه، چې پوځ دې د ISI رئیس هند ته ولېږي. هغه باید ددې پر ځای رئیس ته ویلي وای، چې دا اعلامیه یې ورکړې وای. هغه به توافق کړی و او یو مناسب کس به یې لېږلی وای.

کله چې تاسې د ISI د لوی رئیس نوم اخلئ، نو ټول پام پر هغه ورټولېږي او دا سفر بیا د هرې ورته پېښې لپاره یو معمول او دود گرځي.

دولت: نو زرداري او گیلاني یوازې همدومره وکړل، چې ویې ویل موږ د استخباراتو رئیس لېږو.

**دوام لري...**


# عثماني خلافت

◀ اکسوس کتابپلورنځی

چې لـه تېرو تجربو څخه په گټې اخیستنې لـه نـزولي حالت څخه عروجي حالت تـه ځـان ورسـوي. تاریخ د ماضي بیـان دی، خو هرڅوک نـه شي کولای چې ښه تاریخ ولیکـي. په تاریخ لیکنه کې د تاریخ لـه مېتود سره اشنایي او په نویو څېړنیزو اصولو باندې پوهېدل مهم دي. تاریخ د تېرو تجربو بیان دی او په حال کې لـه ماضي څخه گټه اخیستل او د راتلونکي لپاره فکر کول دي.

په دغه کتاب کې د اسلام ارزښت بیان شوی دی او واضح شوي دي، چې یو وخت اسلامي مشران څوک وو، مشري یې څنگه کوله، د مشرۍ معیار ټاکنه یې څنگه وه او دغه مشر باید کومې ځانگړنې ولري. د عثماني خلافت مشرانو عدالت ته ارزښت ورکاوه، انساني همدردي یې درلوده، لـه رعیت سره یې د مرستې روحیه پیاوړې وه او د انساني افکارو د پیاوړتیا لپاره یې هڅې کولې.

په دې کتاب کې ډېرې داسې خبرې شته، چې د وخت د پرمختگ وسیلې ښودل شوې دي او لـه دې لاملونو یې یوه برخه ټولنه ده. په ټولنپوهنه کې دا برخه واضح ده او دا بحثونه تفسیر شوي دي. په دغه کتاب کې سیاسي، ټولنیز، فرهنگي او د مشرۍ اخلاق بیان شوي دي او دا پکې په ډاگه شوې ده، چې د ټولنې پرمختگ لـه اخلاقي معیارونو سره تړاو لري. دا کتاب سیاست والو او عامو وگړو ته یو ښه لارښود کېدلی شي، چې څنگه یوه جغرافیه پرمختگ کولی شي او څنگه لـه ستونزو سره مخ کېږي. په سیاست کې لـه کومو تکتیکونو څخه کار واخیستل شي، فرهنگ لـه ټولنې سره کوم تړاو لري، فرهنگي انسان په ټولنیزو کړنو کې څومره مؤثر دی، د ټولنې اغېزې په انسانانو او د انسانانو او ټولنې دوه اړخیزې اړیکې څومره مهمې دي.




## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| د کتاب نوم | لیکوال/ژباړن | بیه |
|---|---|---|
| خصوصي- بین المللي حقوق | احمد گل واثق دراني | ۱۵۰؋ |
| کریمنالیستیک | محفوظ الله عارفي | ۲۵۰؋ |
| عیني حقوق | فضل هادي فضلي | ۲۳۰؋ |
| معاصر حقوقي سیستمونه (لومړی ټوک) | محمد ایمل حقمل | ۲۰۰؋ |
| معاصر حقوقي سیستمونه (دویم ټوک) | محمد ایمل حقمل | ۲۳۰؋ |
| د نړیوال تجارت حقوق | مصطفی نیازی | ۱۸۰؋ |
| مدیریت عمومی | علی علاقه بند | ۱۲۰؋ |
| مقدمات مدیریت آموزشی | علی علاقه بند | ۱۲۰؋ |
| مدیریت آموزشی (نظریه، تحقیق و کاربرد) | وین ک. هوی و سیسیل ج.میسکل/نادر سلیمانی،محمود صفری، سید مرتضی نظری | ۳۵۰؋ |
| مدیریت منابع( مفاهیم، تئوریها و کاربردها) | آرین قلی پور | ۳۵۰؋ |
| سیستم های اطلاعاتی مدیریت | دبلیو.اس. جوادکا ر/ احمد سرداری | ۲۰۰؋ |
| مداخلات فرامرزی و فاجعه سقوط جمهوری اسلامی افغانستان ۱۳۷۱ | محمد اسحق توخی | ۲۵۰؋ |
| جیودیزي انجنیري | شاه ولي څرگند | ۳۸۰؋ |
| هایدرو لیک انجینري | محمد انور صافی | ۴۵۰؋ |
| رسم تخنیک عمومی | محمد سعید کاکړ | ۳۵۰؋ |
| د تدریس عمومي مېتودونه | محمد اسحاق شهیدزوی | ۲۵۰؋ |
| اور په افغانستان کې | ریه تالي ستیورات/عبدالحسیب حکمتي | ۳۰۰؋ |
| د نړیوالو اړیکو تاریخ | بلال بدلون | ۲۵۰؋ |
| د نړیوالو اړیکو تاریخ( له ۱۹۴۵ ز کال څخه تر ۲۰۰۸ ز کال پورې) | موریس واعیس/حکیم الدین منځنی | ۲۰۰؋ |
| د ټولنپوهنې بنسټونه | فیاض گل مظلوم یار | ۱۵۰؋ |
| تصمیم گیری و تعیین خط میشی دولتی | سید مهدی الوانی | ۱۸۰؋ |
| مقدمات برنامه ریزی درسی | حسن ملکی | ۱۷۰؋ |
| مبانی برنامه ریزی آموزشی | بهرام محسن پور | ۱۲۰؋ |
| در آمدی بر روان شناسی جنایی | مریم شریفی | ۱٦۰؋ |
| عمومي ارواپوهنه | سراج الدین علیمي،خواجه ذبیح الله صدیقي،محمد ناصر حبیبي/محمد طاهر خپلواک | ۱۵۰؋ |
| د بریالیتوب پیل | روبین شرما/گلاب بهار | ۱۰۰؋ |
| ترن هوایی کار آفرینی | دارن هاردی/لیلا عیسی نیا | ۲۳۰؋ |
| اهرم های خوشبختی | آنتونی رابینز/ سیما فرجی | ۲۳۰؋ |
| مثل یک مرد فکر کنید مثل یک زن عمل کنید | استیو هاروی/ گیتی شهیدی | ۱۵۰؋ |
| د مطالعې اغېز، ارزښت، گټې او څرنگوالی | حمید الله همت | ۵۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۳۵ |
| € | ۹٤,٦۰ |
| Rp. | ٤۹٦ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱,۷۰ |
| £ | ۱۰۹ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانی

# څنګه نورو ته اغېزمنې خبرې کولی شو؟

**ایمل مروند**

د مشهور امریکایي ناول لیکونکي "سډني شیلډن" وینا ده: «له خلکو سره اوس هم تر مرګ ډېره دا وېره وي چې د خلکو یوې ډلې ته به څنګه خبرې یا وینا وکړي.» که یو کس هر څومره د خبرو کولو مېړنی وي، خو چې کله درېځ یا سټېج ته ودرېږي او مخکې ناستو کسانو ته وګوري، نو خامخا یې پر تندي خوله لاره کوي او د څه شیبې له پاره پر میک خپل اغیز له لاسه ورکوي.

رښتیا هم چې د خلکو یو ډلې ته خبرې کول اسانه او ساده کار نه دی، خو که چېرې په ځینو خبرو او لارښوونو عمل وشي، نو دا سخته او ګرانه چاره هم اسانه کېدای شي. تاسې به ځینې خلک لیدلي وي چې په خبرو کولو کې مشهور او نوم وتي وي.

خلکو ته یا د عامه وینا کولو مینه‌وال ورځ تر بلې په افغانستان کې هم ډېرېږي، په ځانګړې توګه ځوانان ډېر خوښوي چې په غونډو او ناستو کې خلکو ته ښه او اغېزناکه وینا وکړي، چې له امله یې اورېدونکي اغېزمن او د دوی مینه‌وال شي.

انسان خوښوي چې دی کومه خبره کوي نور یې واوري، پرې پوه شي او له وینا یا خبرو کولو وروسته هم ورسره اړیکه وساتي، د څه زده کولو هڅه ورنه وکړي، نورې خبرې یې واوري چې دا په حقیقت کې د وینا کوونکي لپاره ویاړ وي.

**۱ـ عامه وینا څه ته وايي؟**

څو کسانو ته د خبرو له لارې خپل پیغام رسول عامه وینا ده. که چېرې له تاسې سره داسې یوه موضوع وي چې نوې او په زړه پورې وي، تاسو پرې پوهېږی، سر مو پرې خلاص وي او د خلکو یو ډلې ته یې نه یوازې تشریح یا بیان کړی، بلکې د خلکو پوښتنو ته ځوابونه هم ویلی شی؛ نو تاسو خلکو ته خبرې کولی شی او دا عامه وینا بلل کېږي.

**۲- د خبرو کولو ځای وپېژنئ**

تاسې چې په هره مسلکي برخه کې کار کوی، یو ډول نه یو ډول څو تنو ته د خبرو کولو له اړتیا سره مخ کیږی. اړینه نه ده چې تاسې یو عامه ویناکوونکی اوسی او همدا مو کار وي، بلکې که تاسې په هره برخه کې کار کوی، لکه انجنیري، اقتصاد، روغتیا او... په دې ټولو برخو کې تاسې اړتیا پیدا کوی چې د خلکو یوې ډلې ته خبرې وکړی.

که بل څه نه وي ضرور اړ کیږی چې په خپل کارځای کې ان میاشت کې یو ځل د خپلو کارونو په اړه له خپلو همکارانو سره خبرې وکړی، که چېرې تاسو دا هنر ونه لری، نو نه شی کولی چې د خپل کار ګزارش یا راپور نورو همکارانو یا ادارې ته په سمه ښه ورسوی.

هغوی چې د ښې وینا یا خبرو کولو هنر لري، تر نورو ځکه ډېر بریالي وي چې خپلې وړې لاسته راوړنې هم خلکو ته ښې بیانولی شي او همدارنګه له ښو او منظمو خبرو کولو سره د نورو پام ځان ته راګرځولی شي.

د بیلګې په ډول، که تاسې یو ښوونکی اوسی، نو که چېرې خلکو ته د ښو خبرو کولو وړتیا ولری، دا چاره تاسې یو ښه ښوونکی جوړولی شي. له ځینو به مو ډېر اورېدلي وي چې وايي: فلانی کس ډېر پوهیږي؛ خو نور نه شي پوهولی. د دې لامل همدا وي چې دا کس که څه هم په موضوعاتو ډېر پوهیږي؛ خو د خبرو کولو هنر یې کم وي او نه شي کولی خپل هدف نورو ته ښه بیان کړي.

لنډه دا چې په هره برخه کې ستاسې اړتیا پیدا کیږي چې باید یو څو کسانو ته خبرې وکړی او خپل هدف یا هغه څه چې له تاسو سره وي، نورو ته په سم شکل ورسوی.

**۳- د خبرو کولو پر مهال باید کوم خیزونه** په پام کې ونیول شي؟

خلکو ته په خبرو کې تر ټولو اړینه ده، په کومه موضوع چې تاسې خبرې کوی، لومړی باید خپله پرې ځان ښه پوه کړئ، په ټولو برخو یې فکر وکړئ، شته پوښتنو ته په کې ځوابونه پیدا کړئ او کله مو چې پرې سر ښه سر خلاص شو، بیا یې نورو ته بیان کړئ. که چېرې تاسې پر کومه موضوع خبرې کوی او خپله مو پرې سر نه وي خلاص او یا د یادې موضوع په اړه پوره معلومات ونه لری، دا چاره ستاسې وینا او شخصیت دواړه زیانمنوي او بیا مو څوک خبرو ته غوږ نه نیسي.

نو په هره موضوع چې د خبرو کولو پلان او تکل لری، لومړی یې له ځان سره ښه تمرین کړئ، معلومات پرې راټول کړئ، کله چې پرې ښه ډاډه شوی، بیا یې له نورو سره شریکه کړئ، نو د بیانولو پر وخت به یې ستونزه ونه لری او په ډېر ښه ډول به یې نورو ته ورسوی.

په کوم ځای او کوم چاته چې خبرې کوی، ښه ده چې د هغه ځای او خلکو په اړه هم لږ ډېر معلومات ولری، دا معلومات هم درسره مرسته کوي چې خپل پیغام تر نورو په ښه شکل سره ورسوی.

**۴- باډي لنګوېج یا بدني حرکتونو ته مو پام وکړئ**

کله چې تاسې د خلکو یو ډلې ته خبرې کوی، د خبرو کولو ترخنګ په کې ستاسې د بدني حرکتونه هم ډېر مهم رول لوبوي. ستاسې د سر حرکت، د لاسونو ښورول او یا نور بدني حرکتونه... نو پام مو وي چې د خبرو کولو پر مهال خپلو بدني حرکتو نو ډېر پام وکړئ.

که چېرې یوې ډلې خلکو ته تاسې خبرې کوی، خو بدني حرکات مو ملګرتیا نه کوي، ناست خلک درنه سترې کیږي او ورو ورو یې ستاسې خبرې زړه وهي، خو که چېرې ستاسې بدني حرکات ستاسې له غږ سره ملګري وي، نو خلک ستاسې د خبرو اورېدو ته هڅېږي او خوند ترې اخلي.

**۵- په لوړ غږ خبرې وکړئ**

خلکو ته د پیغام په رسولو کې د غږ کنټرول او منظموالی هم ډېر رول لري، که تاسې یوې ډلې خلکو ته په درېځ خبرې کوی، خو غږ مو ډېر ټیټ وي او شاته ناست کسان یې وانه وري، دا چاره ستاسې وینا بې خونده کوي. همدارنګه که غږ یا اواز مو مړاوی وي یانې تازه نه وي هم خلک یا اورېدونکو ته مزه نه ورکوي؛ نو پکار ده چې تاسې په لوړ او تازه غږ سره خبرې وکړئ، چې اورېدونکي له ځان سره وساتئ او پام یې ستاسې لور ته واوړي.

**٦- میکروفون کې خبرې کول**

که چېرې تاسې خلکو ته میک کې خبرې کوی، نو مهمه ده چې د میک، سپیکر او خپل غږ تر منځ تړون رامنځ کړئ. ځینې کسان چې د میک او غږ تر منځ په تړاو رامنځ ته کولو نه پوهیږي، خبرې او وینا یې ډېری وخت بې اغیزې وي. تاسې باید پوه شئ، که اړتیا وي سپیکر ته ایکو ورکړئ، خو که ایکو یا د سپیکر اواز اورېدونکي تنګول، نو هم یې باید غم وخورئ چې ستاسې د خبرو کولو جریان خراب نه کړي.

**۷- سترګې په سترګې خبرې وکړئ**

هغه کسان چې تاسې اوري یا یې درته غوږ نیولی، ښه ده چې د خبرو کولو په وخت کې هغوی ته وګورئ او خبرې وکړئ. دا چاره هغوی ته دا ډاډ ورکوي چې تاسې له هغوی سره خبرې کوی. دا یوه خبره تل یاده ساتئ چې هیڅکله پر ځان دومره ډاډه مه اوسئ، چې پرته د تمرین او پوره معلوماتو درلودلو پر یوه موضوع خبرې وکړی، خو که پر موضوع مو سر خلاص شوی وي، نو بیا د خبرو کولو پر مهال تر ټولو مهمه ده چې تاسې پر خپل ځان او خپلو خبرو باور ولرئ او پر هغې ډاډه اوسئ.

تل په یاد لرئ، هغوی چې تاسې اوري، هغوی هم ستاسې په شان دي او تاسې هم د هغوی په شان یئ، که چېرې تاسې په خپل ځان د اعتماد کولو او نه کولو تر منځ تړاو وساتی، نو تاسې به یو ښه ویناوال اوسی.

# راپورونه: ترکیې د حامد کرزي نړیوال هوايي ډګر د مسوولیت غوښتنه کړې



د ترکیې حکومت ویلي، غواړي چې له افغانستانه د امریکایي او ناټو ځواکونو له وتلو څخه وروسته د کابل د نړیوال هوايي ډګر امنیتي او نورې چارې پر غاړه واخلي.

امریکایي چارواکي وايي، ترکیې د دغه کار لپاره یو لړ شرایط وړاندې کړي، چې باید پوره شي. ترکي چارواکو په مې میاشت کې د ناټو عمومي غونډې ته دا وړاندیز سپارلی دی. رویټرز خبري اژانس د یو ترکي چارواکي له خولې لیکلي، چې انقرې او واشنګټن په دې اړه خبرې کړې او امریکا د ترکیې ځینې شرطونه منلي هم دي.

دغه چارواکي زیاته کړې: «له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د ایستلو له پلان وروسته، ترکیې د کابل د هوايي ډګر د امنیت ساتلو وړاندیز وکړ او په دې اړه د امریکا او ناټو له چارواکو سره خبرې روانې دي.»

په ورته مهال د ترکیې دفاع وزیر هم ویلي چې د دغه هېواد شرطونه د ائتلافیانو په مرستو پورې تړلي دي. هغه زیاته کړې: «موږ شرایطو ته په کتو غواړو په افغانستان کې پاتې شو، خو زموږ شرطونه څه دي؟ سیاسي، مالي او لوجیستکي ملاتړ. که دا شرطونه پوره شي، موږ په کابل کې د حامد کرزي په نړیوال هوايي ډګر کې پاتې کېدای شو.»

بلخوا یوه امریکایي چارواکي د نوم د نه ښودو په شرط رویټرز خبري اژانس ته ویلي، چې امریکا د انقرې د دغه وړاندیز هرکلی کوي، خو هغوی ډېرې پیسې غواړي. دغه چارواکي همدغه راز په ترکیې باندې د اعتبار مسئله هم یاده کړې، خو وايي چې واشنګټن هڅه کوي یوه حل لاره ورته پیدا کړي.

د یادونې ده چې ټاکل شوې ناټو به راتلونکې دوشنبه پر افغانستان خبرې وکړي چې د امریکا او ترکیې ولسمشران جو بایډن او رجب طیب اردوغان به هم پکې له یو بل سره له نږدې وویني.

ترکیه د ناټو په چوکاټ کې په افغانستان کې شاوخوا پنځه سوه سرتېري لري چې تر ډېره د افغان ځواکونو پر روزنې، سلا مشورې او تجهیزولو بوخت دي. دغه راز له افغانستانه په مې میاشت کې د بهرنیو ځواکونو وتل پیل شوي او ټاکل شوې دا بهیر د ۲۰۲۱ د سپتمبر په ۱۱ بشپړ شي.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



WAYGAL
PRINTING CO

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



چهارشنبه د ۱۴۰۰ د غبرگولي ۱۹مه | د ۲۰۲۱ د جون ۹مه | ۷۳۰مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۷ | ۴۰ | ۴۵ | ۳۹ | ۴۷ | ۴۱ |
| ۱۸ | ۲۳ | ۲۶ | ۲۷ | ۲۷ | ۲۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۵ | لمر ختل ۰۴:۴۰ | ماسپښین ۱۱:۵۳ | مازیگر ۰۴:۵۵ | ماښام ۰۷:۰۶ | ماخوستن ۰۸:۵۱

## نړۍ




## اروپايي ټولنه: که روسيه پاروونکي اقدامات ودروي، خپلې اړيکې ورسره بېرته رغوو

د اروپايي شورا رييس چارلز مېشل د روسيې له ولسمشر ولادمير پوتين سره پر مهمو مسايلو خبرې کړې. نوموړي زياته کړې، چې د وضعيت زيات کړکېچنېدل د هېچا په گټه نه دي.

په ورته مهال اروپايي ټولنې هم د يوې اعلاميې په خپرولو سره ويلي، چې مېشل له ولسمشر پوتين سره په دې ټليفوني مکالمه کې ويلي، چې اروپايي شورا په مې مياشت کې پر روسيې بحث کړی او د اروپايي ټولنې او اروپايي هېوادونو پر وړاندې يې د مسکو پاروونکي فعاليتونه غندلي دي.

دغه راز مېشل هم پر خپل ټوېټر ليکلي، د دواړو لورو اړيکې يوازې هغه وخت ښې کېدلی شي، چې روسيه خپل ورانکاره فعاليتونه ودروي.

بلخوا کرېملين هم د پوتين او چارلز مېشل تر خبرو وروسته په يوه اعلاميه کې ويلي، چې د مسکو او اروپايي ټولنې اړيکې ښې نه دي، خو دواړه لوري هڅه کوي چې دغه اړيکې بېرته عادي حالت ته راوگرځوي.

د يادونې ده چې د روسيې او اروپايي ټولنې اړيکې له ۲۰۱۴ز کال راهيسې د کرېميا ټاپو وزمې د الحاق او هم په ځينو اروپايي هېوادونو کې د روسيې د مشکوکو فعاليتونو له کبله سړې شوې دي. په دې وروستيو کې دواړو لوروان د يو او بل ډيپلوماټان هم څو څوځله ايستلي دي.

## راپورونه: په پاکستان کې د اورگاډو د ټکر د پېښې د مړو شمېر ٦٢ کسانو ته ورسېد



د راپورونو له مخې، د پاکستان په جنوب کې د دوو اورگاډو د ټکر له امله د مړو شمېر شمېر ٦٢ کسانو ته لوړ شوی دی. په دې پېښه کې چې د سیند ایالت د ډهرکي په نوم ښارگوټي کې وشوه، په لسگونو کسان ټپيان شوي هم دي. په سيمه کې، د ټکر يوه عيني شاهد شير محمد اسوشیېټډ پرېس اژانس ته ویلي: «ما خلک ولیدل چې هر لور ته پراته وو، ماشومان د رېل دننه بند پاتې وو، ژړل يې او د مرستې لپاره يې چيغې وهلې. موږ ځينې وژغورل، د حکومت د ژغورنې ډلې راغلې او عملیات یې پيل کړل. موږ د سيمې له پوليسو سره مرسته وکړه چې خلک د ښار سيمه ييزو روغتونونو ته په موټرو کې ورسوي.»

دا ټکر هغه مهال وشو، چې يو اورگاډی له کراچۍ ښار څخه سرگودا ته روان و او له يوه بل اورگاډي سره چې له راولپنډۍ را روان و، ټکر شو.

د يادونې ده چې په دې وروستيو کلونو کې د پاکستان په رېل پټلۍ کې ورته پېښې ډېرې شوې چې سلگونو کسانو ته يې مرگ ژوبله اوښتې ده. په تېره مارچ مياشت کې هم له کراچۍ لاهور ته تلونکی اورگاډی له پټلۍ واوښت چې له امله يې ۳۰ کسانو ته مرگ ژوبله واوښته.

## در تظاهرات خشونت‌بار بدخشان ۴۸ تن کشته و زخمی شده است



باشنده‌گان شهر فیض‌آباد مرکز ولایت بدخشان در اعتراض به نبود آب آشامیدنی، برق و امنیت در این شهر، دست به اعتراض و راهپیمایی زدند که به شدت به خشونت کشیده شد و تلفات زیادی بر جای گذاشت.

مظاهره‌کننده‌گان از سه روز قبل از طریق شبکه‌های اجتماعی برای راه‌اندازی این تظاهرات هم‌آهنگی کرده بودند و صبح دیروز از سنگ‌مهر شهرنو فیض‌آباد تظاهرات را آغاز کردند و تا دروازه ولایت رفتند.

راهپیمایی پس از آن به خشونت کشیده شد که مردم خشمگین با فریادهای «مرگ بر والی» و ما «آب و برق می‌خواهیم» به چند متری دروازه ولایت رسیدند و محافظان دروازه ورودی دفتر والی بدخشان بر معترضان شلیک کردند. در پی شلیک محافظان ولایت چهار تن کشته شده و ۴۴ تن دیگر زخم برداشتند.


## ژوند

## ریالمي نارزو۳۰ ځیرک موبایل معرفي کړ




ریالمي کمپنۍ د ۲۰۲۰ کال په فبروري کې د نارزو۳۰ لړۍ دوه ځیرک موبایلونه، نارزو۳۰ اې او نارزو۳۰ پرو ۵جي کاروونکو ته معرفي کړل او اوس یې د دغې لړۍ یو بل ځیرک موبایل، نارزو۳۰ هم معرفي کړ. نارزو۳۰ کې ٦،٥ انچه فول ایچ ډي پلس ډوله مخ‌پاڼه ورکړل شوې چې له ۹۰ هرتز ریفرېش ریټ څخه هم ملاتړ کوي. دغه ځیرک موبایل کې د مېډیاټېک کمپنۍ هېلیو جي۹۵ ډوله پروسېسر، ٦ گېگابایټ رم او ۱۲۸ گېگابایټ د فایل ثبتوني وړتیا ورکړل شوې ده. نارزو۳۰ کې ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې، چې له ۳۰ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. ریالمي کمپنۍ ادعا کوي چې دغه ځیرک موبایل ٦۵ دقیقو کې ۱۰۰٪ چارجېږي. شاتنۍ برخه کې ۳ کامرې لري چې ۴۸ مېگاپکسله اصلي، ۲ مېگاپکسله پورټرېټ او ۲ مېگاپکسله مکرو کامرې پکې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې ١٦ مېگاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري. دغه ځیرک موبایل به په پیل کې مالیزیا کې خرڅلاو ته وړاندې شي او بیه یې ۱۹۵ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده.

## د ام روغتیایي گټې



ام هغه خوندوره او د غذایي توکو لرونکې مېوه ده، چې د خپل رنگ، خوند او اغېز له مخې تر ټولو ځانگړې مېوه بلل کېږي، چې په هند کې ډېره کرل کېږي او په اسانۍ سره تر لاسه کېږي. د ام په اړه ویل کېږي چې د ډېرو خطرناکو ناروغیو مخنیوی کوي؛ خو ځینې بیا د ام پاڼې هم استعمالوي. د اوړي په موسم کې کله چې د تودوخې درجه پورته شي، نو د انسان بدن د اوبو له کمښت او نورو ستونزو سره مخ کېږي، په داسې حالاتو کې د خام ام اوبه گټورې تمامېږي. ویل کېږي چې ام د داسې غذایي توکو لرونکی وي چې د زړه د روغتیا لپاره مرستندویه تمامېږي. همدغه راز د کلیسټرول، ټرای گلسرایډز او د فیټي اسیدو کچه برابره ساتي. ام د داسې ځانگړو انزایمو لرونکې مېوه ده چې د خوړو لویې ټوټې هم اوبه کوي څو بدن یې په سم ډول جذب کړي. همدغه راز ام په ډېره اندازه اوبه او فایبر هم لري، چې د قبض او بدهضمۍ غوندې د نورو ناروغیو مخنیوی کوي. ام د پولي فینولونو په شتون کې د سرطاني حجرو د ودې مخنیوی هم کوي.


## کوچني او منځني سوداگریز پورونه

عزیزي بانک ستاسو د سوداگرۍ د پرمختگ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداگر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کېږي، ترلاسه کړي.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank